پوهنمل حاجی محمد نوزادی ۲۰۱۱/۰۵/۰۶

# د « ژړ خطر» پوتنشیال او د« سپین خطر» واقعیت

( دویمه برخه )

دلومړی برخی سره په تړاو کی – په تیره برخه کی څرګنده شوه چی د ژړ خطر نه موخه دجنوب ختیزو هیوادونو څخه لکه چین ، جاپان او نورو ژړ نژاده اولسونو لخواد امریکا او لودیز سپین نژاده دولتونو ته هغه خطر دی چی په راتلونکی کی دوی ورځخه ځانونه په ډار کی بولی . دسپین خطر نه دلیکوال موخه هغه خطر دی چی همدا اوس د امریکا او لودیز لخوا په نړۍ کی ډیر هیوادونه ورسره مخامخ دی.



د چین لخواچاپیریال ساتنی ته خطر :

د چین چټکو اقتصادی پرمختیاوو د چین په دننه کی هم پرچاپیریال باندی د یوی راتلونکی ناوړی پدیدی په توګه منفی اغیزی اچولی چی پخپله چینایی مشرتابه یی هم اوس دیوه پرابلم په توګه یادوونه کوی. په چین کی هوا ته بی کنتروله کاربن ډای اکساید خوشی کیږی چی دا په نړیواله کچه دهوا د تدریجی ګرموالی دچټکیدو سره مرسته کوی. دچین دولت په ۲۰۱۰ کال کی په رسمی ډول تائید کړه چی چین و اتموسفیر ته د کاربن دای اکساید په لیږلو کی دنړی په کچه لومړی ځای لری او پدی کارسره تر امریکا دمخه شو. لویدیز ماهران خو لا وایی چی دا کار ان په ۲۰۰۷ کال کی تر دغی کچی پوری رسیدلی وو. دیادونی وړ ده چی په اتموسفیر کی د کاربن ډای اکساید ډیروالی د ځمکی د کری هوا په تدریجی ډول ګرموی او پدی سره په قطبونو کی دمیلیونونو کلنو راهیسی کنګل شوی اوبه ویلی کیږی. دارکاربیا په خپل وار دسمندرونو د اوبو سطح لوړوی چی ددی کری اوسیدونکو ته بیشمیره بیلابیلی ستونزی رازیږولای شی.



په دودیز طبابت کی وچی شوی شرمنکی کاروی لدی نه پرته چین پدی هم تورن دی چی په خپل دودیز طبابت کی د بیلابیلو وحشی حیواناتو دبدن غړی د درملنی په موخه کاروی او داکار دنومړوو ژوو دمړنی لامل ګرځی. ددی ډول طبابت په پایله کی انسانانو ته دیوشمیر منفی فکتورونو برسیره، د ډیرو نادرو وحشی حیواناتو ډولونه هم له منځه ځی چی دا کار یو شمیر چاپیریالی ستونځی رازیږولای شی.

بیلابیلو هیوادونو ته د چین دخطر ګواښ :

هغه سیمی چی په یوه یا بل ډول یی دچین لخوا دګواښ سره مخامخ بولی، په لاندی کرښو کی یی یادوونه کولای شو:

۱ – لویدیزی نړی ته د چین ګواښ :

لویدیز ته تر ټولو زیات له چین نه د اقتصادی حاکمیت خطر مخامخ دی چی دا ګواښ د اقتصاد په نژدی ټولوبرخو کی تر سترګو کیږی. د یو شمیر اقتصادی فکتورونو له مخی چینایی تولیدات په لویدیزو هیوادونو کی د ورته اجناسو په پرتله په ډیره ارزانه بیه پریوزی. همدغه ارزانوالی ددی لامل ګرځی چی په لودیز کی د اقتصاد بیلابیل اړخونه دماتی سره مخامخ او ډیری تولیدونکی ځانګی وتړلی شی . د ستر مثبت اقتصادی بیلانس له برکته چین وکولای شوه چی ستری مالی زیرمی ترلاسه کړی. دا هغه څه دی چی دلودیز مالی استقلال ته لوی ګواښ رامنځته کوی . دچین دغه برلاسی د ۲۰۰۸ کال دنړی دمالی بحران په ترڅ کی ځان تربل هر وخت ډیربنه څرګند کړ. دغه بحران چی په نوره نړی کی یی ستر مالی کسر راوست ، په چین کی یی ان داقتصادی پرمختیا چټکوالی لا هم سست نکړای شو.



۲ – امریکا ته دچین ګواښ :

په ۱۹۹۰ – ۲۰۰۰ کلونو کی امریکا ته دچینایی تولیداتو د را واردولو کچه وچین ته د امریکایی تولیداتو دلیږلو تر کچی څو برابره زیاته شوه چی د همدغی برلاسی په برکت ، امریکا چین ته په لویه پیمانه پوروړی وګرځیده. د ۲۰۰۹ کال په ډیسمبرکی دچین او هانګ کانګ پورونه پرامریکا باندی و ۱،۱ تریلیون امریکایی ډالرو ته ورسیدل. لدی نه پرته چین دخپلو طلایی اسعارو په توګه ۴،۱ تریلیونه امریکایی ډالر زیرمه کړیوه چی همدارنګه یی ورکړه د امریکا مالی مکلفیت ګڼل کیږی. دچین ارزانه تولیداتو همدارنګه په امریکا کی هم یو لړ زیات صنعتی سکتورونه له پښو واچول او دماتی سره یی مخامخ کړه.



افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

دچین لخوا امریکاته نظامی ګواښ خو لا ان د ۱۹۵۰– مو کلونو راپدی خوا دامریکا دهغه اتحاد له مخی رامنځته شویدی چی امریکا یی د تایوان سره کوم چی چین یی خپل یو ولایت ګڼی، لری. مګر د ۱۹۸۰ یمو کلونو را وروسته چی دچین او امریکا ترمنځ اقتصادی مزی ټینګی شویدی، دمخامخ نظامی عمل ګواښ سست شویدی .
۳ - اوسنی روسیی او ورسره نړلو هم ګټو هیوادونو ( پخوانی شوروی جمهوریتونو ) ته دچین ګواښ :
په ننی روسیی او همګټو هیوادونو کی د « ژړ خطر » داصطلاح پرځای یوه بله جمله کاروی لکه ( دلیری ختیز د پراختیا څخه د خطر پوتنشیال ) . لدی څخه هم ددوی موخه هغه سیمی دی چی د ( ژړ نژاد ) وګړی ورکی اوسیږی او چین دلته ځانګړی دپام وړ ځای لری. دا خبره هم دوی یادوی چی په چین، ویتنام او ددغی سیمی په نورو هیوادونو کی د نفوسو ډیروالی او د ژوند د کچی ټیټوالی ، خلک و دی ته اړباسی چی دکار په لټه کی و روسیی ته او یا د روسیی دلاری په غیرقانونی ډول و اروپایی اتحادیی ته کډوال شی.
د روسیی او همګټو هیوادونو سره د چین بی شمیره سرحدی جنجالونه ( دعواوی ) هغه څه دی چی و دغو هیوادونو ته له بل هرڅه نه زیات ګواښ اوستونزی رامنځته کولای شی. دچین دولت داسیاست چی د روسیی سره په خپلو هغو سرحدی سیمو کی چی پخوا بومی ترک نژاده مسلمانان اوسیدل، اوس چینایی نژاده وګړی ځای پرځای کوی ، هم د روسیی دپاره سرخوږی را پورته کولای شی . دا کار دنورو ګاونډینو سره په سرحدی سیمو کی هم ترسره کیږی.
روسیه چی دچین سره څو زره کیلومتری نیغ سرحد لری او له بلی خوا د وګړو د زیاتوالی ، اقتصادی چارو او دپرمختیایی دینامیک له مخی تر چین ډیره وروسته پاته ده ، دا ټول پخپله د روسیی د پاره د چین لخوا دخطر پوتنشیال شمیرل کیدلای شی . لدی نه پرته په نونسمی پیړۍ کی د چین او روسیی تر منځ هغه سرحدی قراردادونه چی له مخی یی ننی سرحدونه رسمیت لری، اوس دچین لخوا په رسمیت نه پیژندل کیږی . په همدغه اړوند د دامان په سیمه کی د ۱۹۶۹ کال سرحدی وسلوالی شخړی وښوده چی ددغسی ګواښمن پوتنشیال د شتون څخه سترګی نشی پټیدلای.
د چین اقتصادی فشارونه او دچینایانو کډوالی و روسیی ته هم یو بل خطر دی چی روسیه یی باید په پام کی ونیسی.
روسیه دا ادعا هم لری چی چین د روسیی د یولړ علمی – تخنیکی لاسته راوړنو څخه غلاوی کړی او په ځانګړی توګه یی په نظامی برخه کی د هغوی نه زیاته ګټه پورته کړیده ، دبیلګی په ډول کیدلای د روسیی د ( سو – ۲۷ ) او (میګ – ۲۹) جنګی الوتکو یادوونه وشی چی چین په بریالی توګه کاپی کړیدی او د (جی - ۱۰ )، (شانیانګ ج - ۱۱) او (ف. سی. - ۱) په نومونو یی یادوی.
د روسی سو- ۲۷ چینایی کاپی : ج – ۱۱
۴ – اسیایی هیوادونو ته د چین ګواښونه :
دیو شمیر څیړونکو په اند ، اسیایی هیوادونو ته چین دخپلو اقتصادی شتمنیو او برلاسیو د لاری دخطر زنګ وهی، داځکه چی ددوی دمالونو سیلاب په نوموړو هیوادونو کی دصنعتی پرمختیا مخه ډب کړی او نه پریږدی چی هغوی پرخپلو پښو ودریږی. د بل پلو نه دچین دنظامی خطر پوتنشیال هم پدی خاطر د پاملرنی وړ دی چی چین نژدی پرخپلو ټولو ګاونډیانو باندی ( بیله افغانستانه ) سرحدی دعوی لری. دا دعواوی تر ټولو زیات دتایوان او هند په اړوند د یادوونی وړ دی. د بیلګی په توګه دا ډول دعوی کله ناکله تر وسلوالو شخړو پوری هم رسیدلی دی لکه په ۱۹۶۲ او ۱۹۶۷ کلونو کی دهند سره، ۱۹۵۰ – ۱۹۵۳ پوری د کوریا سره او په ۱۹۷۹ کی د ویتنام سره وسلوالی شخړی. له دی نه پرته دسیمی په یو شمیر هیوادونو کی ماو ئیستی ډلی د دولتی واک دترلاسه کولو په موخه تروریستی فعالیتونه کوی چی چین یی په ملاتړ کولو تورن دی.
۵ - افریکایی هیوادونو ته دچین ګواښونه :
چین پدی تورن کوی چی افریکایی هیوادونو ته یوازی د ځان دپاره داومو موادو دسرچینی او دخپلو پخو موادو د اوبه کولو ( خرڅولو ) دبازار په سترګه ګوری. دوی وایی چینایان په خپل ټول توان هڅه کوی چی دافریکا کانونه دخپلو پوتنشیالی زیرمو په توګه په ځان پوری تړلی وساتی او دهمدی لامله چین په افریکا کی د دیکتاتورو رژیمونو ملاتړ کوی. پدی خاطر نو په افریکایی هیوادو کی دبشر حقونه تر پښو لاندی کیږی او داقتصادی پرمختیا مخه یی نیول کیږی.
د دویمی برخی پای . نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنی د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ